# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

## هغه جینۍ چې په دویم ځل ئې ژوند تېر کړو



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرخولے نهٔ شئ.

یائیر یو یهودی مذهبی مشر و چې د خدایځ عبادت ئې کولو
او د خدایځ د کلام تعلیم به ئې نورو خلقو ته ورکولو. یوه
ورځ په یائیر یو لویځ مصیبت راغلو. د هغهٔ
ښائسته لور چې صرف د دولسو
کالو وه، ناجوړه شوه. داسې
ښکارېدل چې هیچا هم د هغې
مدد نهٔ شو کولے. ځکه چې
ډېره سخته ناجوړه وه.
یائیر ته معلومه وه
چې جینۍ مړه
کیږی.



صرف یو کس د یائیر د لور مدد کولے شو. یائیر د عیسیٰ لټولو د پاره لاړ شی او هغه خپل کور ته راولی. یائیر ته معلومه وی چې د هغهٔ مذهبی ملګری به عیسیٰ نهٔ قبلوی. خو یائیر یې هیڅ پرواه نهٔ کوی.





یائیر وګوری چې
عیسیٰ د خلقو په
مینځ کښې راګېر
وی. هغه د عیسیٰ
په پښو پرېوځی.
او ورته ووائی،
زما وړه لور
مرګی حال ده.
راشه او خپل لاس
پرې کیږده نو هغه به
بنه شی او ژوندی به
پاتې شی.



عیسیٰ یائیر سره لاړ شی.
خو د ډېرې ګڼې له وچې زر
لاړ نهٔ شی. یوه ښځه چې د
دولسو کالو داسې ناجوړه
وه. ټولو طبیبانو له تلې وه
(او خپلې ټولې پیسې یې
خرچ کړې وه) خو هیڅ فائده
ورته نهٔ ملاو شوې. واه،
هغې ډېر په صبرئ سره
عیسیٰ مسیح لېدل غوښتل.



هغه ښځې څۀ کولے شو؟ هغه ووائی،
کۀ زۀ یې صرف چوغې له هم لاس ور وړم
نو ښه به شم. هغه د عیسیٰ مسیح طرف ته
روانه شی. بیا خپل لاس ور اوږد کړی او د
عیسیٰ مسیح چوغې له یې یوسی.

یوه معجزه! یوه معجزه! ښځې ته شفا ملاو شی. سمدستی!
په پوره طور! هغې ته معلومه شی چې ښه او صحت منده
شوه. خو بیا یو آواز وشی. عیسیٰ مسیح
تپوس وکړی، دا چا ما له لاس راوړو.



خو کومې ښځې ته چې شفا ملاو
شوې وه نو هغه پوهېده چې هغه
غواړی چې د خپلې شفا په حقله
ورته ووائی. په یرې سره هغه
ښځه ورته د خپل ژوند ټوله
قیصه بیان کړی.

هم په دغه دوران کښې د یائیر د کور نه نوکران راشی. د
هغوئ په مخ باندې ډېر خفګان وی. هغوئ یائیر ته ووائی،
ستا لور مړه شوه! هغه مړه شوه!

اوس وخت د لاسو ووتو. کهٔ
چرې هغه ښځې په هغوئ نهٔ
وو ناوخته کړے... نو کېدے
شی چې هغه نه وه مړه
شوې! د یائیر ښائسته لور
مړه شوې وه!



چې عیسیٰ مسیح دا واوری نو ووائی. یرېږه مه خو صرف
ایمان وساته. هغه به ښه شی. دا به یائیر د پاره ځومره
ګرانه وی چې هغه د عیسیٰ مسیح
په دې خبره یقین وکړی.
ځکه چې لور ئې
مړه شوې وه.



په کور کښې ټولو د جینۍ د پاره ژړا اوویر کولو. عیسیٰ
مسیح هغوئ ته ووئیل، هغه خو مړه نۀ ده، بلکه اوده ده.
هغوئ ورپورې خندا وکړی. هغوئ
ته پته وه چې جینۍ
مړه شوې ده.



عیسیٰ مسیح ټول بهر وباسی. جینی د لاس نه ونیسی او
ورته ووائی، اے جینی، راپاسه. یائیر هلته کښې وو. د هغهٔ
ښځه هلته وه. د عیسیٰ مسیح درې شاګردان
هلته وو. هغوئ ټولو د عیسیٰ
خبرې اورېدلې. آیا هغه
ماشومې جینی هم د هغهٔ
خبرې واورېدلې؟



مړه جینۍ د
عیسیٰ مسیح
حکم واوری! د
هغې روح
واپس راشی او
هغه سمدستی
راپاځی. عیسیٰ
مسیح هغه د
مړو نه بیا
راژوندئ کړه.



د جینۍ مور پلار حیران شی. عیسیٰ مسیح هغوئ ته ووائی چې دې له د خوراک د پاره څهٔ ورکړئ. هغوئ به ډېره خوشحاله شوی وی، د عیسیٰ مسیح شکریه به ادا کوی. د هغهٔ حیرانونکے قدرت او مینه د هغوئ لور واپس راژوندئ کړی.



هغه جينی چې په دوېم ځل ئې ژوند تېر کړو

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

مرقوس ٥، لوقا ٨

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ۔"

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ
ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۶